# اولياء کرام د خوشحال په شاعرۍ کښې

## Khushal's Poetry; Unfolding the Mystic Personalities

پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب []

**Abstract:** *Literature of all times unfolds collective consciousness of its society. It helps us to unpack the specific events, occurrences, trends, fashion, diction and even the daily life business of that particular historical era. Traditional societies have its innate spiritualism; therefore one can easily find its footprints in the folk and written poetry. Khushal Khan Khattak, the legendry Pashtoon poet has described about several known and unknown mystics of his time. This paper is going to through light on some of the mystic personalities that are not very well known in the larger spheres of Pashtoon societies in the different regions.*

د خوشحال بابا شاعري هم لکه د هغوئ د ګڼ اړخيز شخصيت بلا رنګونه لري. دغه رنګونه که د فن په لحاظ پاخهٔ دي او د مطالبو له رويه ژور دي نو د موضوعاتو له مخه ګڼ شمېره هم دي او په تېره تېره کوم موضوعات چې خوشحال بابا د خپل فکر په سور کړي رباب ټنګولي دي. نو د دغه موضوعاتو ځانګړتيا هم دا ده چې د ستر خوشحال نه وړاندې بل يو شاعر هم داسې نهٔ دی تېر شوی چې هغه دغه راز ګڼ شمېره موضوعات په خپلو شعرونو کښې رانغښتي دي او دا نهٔ يواځې د خوشحال بابا انفراديت دی چې هغوئ په وړومبي ځل د پښتو ادب موضوعاتي پنګه په هر لحاظ درنه او پراخه کړه بلکې د دغه ګڼ شمېره موضوعاتو د بيان پوره پوره حق ئې هم ادا کړو.

د خوشحال بابا شاعري د موضوعاتو له مخه ډېره لويه او پراخه لمن لري. د هر رنګه خيالاتو نه پر مامور ده. د روزګار د تجربو نه برجته ده او د بې شمېره حقيقتونو د بيان په دولت غني شاعري ده او له دې امله د

[] Chairman, Department of Pashto, University of Malakand

خوشحال بابا شاعري لکه د هغهٔ د شخصيت ګڼ اړخيزه شکل اختيار کړی دی چې هر اړخ ئې د بلا معلوماتو رنګو نه په خپل ځان کښې رانغښتي دي او څېړنکاران ئې يو يو اړخ رابرڅېره کوي او د معلوماتو دغه قيمتي لعلونه ترې د ادب مئينان د ښې او فايدې دپاره رامخې ته کوي. په دغه لړ کښې د اوليائي کرامو تذکره هم د خوشحال بابا د شاعرۍ يو غوره اړخ دی چې خوشحال خان په کښې د يو شمېر اوليائي کرامو ذکر په مختلفو حوالو په خپل کلام کښې ځای په ځای کړی دی. دلته دغه اوليائي کرام، بزرګان، صوفيان، پيران او سالکان د بحث لاندې په دې غرض راوستلی شي چې د پښتو ادب لوستونکي ترې عموماً او د خوشحالياتو طالب علمان ترې خصوصاً استفاده وکړی شي.

خوشحال بابا په خپله شاعرۍ کښې د دوه ويشت اوليائي کرامو يادونه کړې ده چې په کښې د لرې او برې پښتونخوا نه علاوه د نورې دنيا سره علاقه لرونکي سالکين، بزرګان، صوفيان، اوليائي کرام او مشائخ هم شامل دي. اکثر و بېشتر دغه يادونه د تلميحاتو او اشاراتو بڼه لري چې په کښې د دغه سپېځلو هستيو تذکره د هغوئ د تقوٰی، تزکيه نفس، رياضت، مجاهدې، کراماتو او روحانيت په بېلابېلو حوالو سره کړی شوې ده. ولې ځنې نور داسې بزرګان هم لري چې د هغوئ په حقله د خوشحال بابا وينا د څهٔ اختلافاتو په وجه د طنز يا انتقادي رنګ اختيار کړی دی. دلته د دغه ټولو ويناګانو يوه اجمالي جائزه وړاندې کولی شي.

خوشحال بابا وائي:

"هسې په ظاهر صورت په مکر دی محکم
وائي چې پيدا شو ثاني ابراهيم ادهمرح (1)

دې شعر کښې خوشحال بابا اورنګزيب عالمګير يادوي، هسې خو خوشحال بابا د دې مغلي باچا په حقله ډېر څهٔ وئيلي دي. يوه شل بېتيزه قصيده د کليات په 943، 644 او 645 مخونو درج ده. دغه قصيدې کښې د اورنګزيب په بابله وائي چې دهٔ د اقتدار دپاره خپل وروڼه تر تېغه

تېر کړل. پلار ئې په بند کړو، دوه کاله زيات و کم وشول چې په تخت ناست دی. داسې ظلمونه ئې وکړل چې په هلاکو خان ئې خاورې واړولې. د ظلم د دغې انتها داستانونه به چا د دې نه وړاندې د ادم﷤ په اولاد کښې نۀ وي اورېدلي خو د دې هرڅۀ باوجود چې ظاهراً د اورنګزېب عالمګير صورت ته ګورې نو داسې معلومېږي چې ګنې ابراهيم ادهم﵀ په دويم ځل را پيدا شوی دی. خو دا هرڅۀ چې مونږ ته ظاهري ښکاري د دۀ مکر او فرېب دی. ګنې چرته دی او چرته ابراهيم ادهم﵀.

لکه څنګه چې مونږ ولوستل چې اورنګزېب عالمګير ته د خپلې ظاهري شېخئ په وجه د ابراهيم ادهم﵀ نسبت ورکړی شوی دی. حالانکې حقيقت په بل رنګ ؤ او دا شان خوشحال بابا په اورنګزېب عالمګير د خپل طنز لينده ښخه کړې ده. تر کومې پورې چې د حضرت ابراهيم ادهم﵀ تعلق دی نو هغه: "د بلخ ښار شهزاده، لوئ بزرګ، صوفي او عالم ؤ. په 795ء کښې په مکه معظمه کښې پيدا شوی ؤ. په فقر او زهد کښې د سترې مرتبې څښتن ؤ"(2).

"د يو روايت تر مخه د دوئ وفات په 16 جمادي الاول 162هـ کښې شوی دی او مزار ئې په جبله شام کښې دی"(3).

د حضرت ابراهيم ادهم د يادونې نه سربېره خوشحال بابا د هغۀ د يو پياوړي شاګرد، جيد عالم، صوفي او ليکوال حضرت شفيق بلخي ذکر دا رنګ کوي:

"په نامه به شفيق نۀ شي
که څوك نوم کښېږدي شفيق" (4)

"عشق څۀ هسې اسان نۀ دی هومره خلقه
په بلخيو کښې خو يو سړی شفيق شۀ" (5)

"نوم ئې شفيق او کنيت ئې ابو علي دی. د زمانې د ممتاز مشائخ او متقيانو نه دی..... حضرت حاتم آصم په شان بزرګ ئې په شاګردانو کښې دی"(6)

"جناب شفيق رح د خپلې زمانې يګانه ؤ. د خپل وخت شيخ او مرشد ؤ. په زهد او عبادت کښې ټينګ او ثابت قدم ؤ او ټول عمر ئې په توکل کښې تېر کړو او په مختلفو علمونو کښې کامل ؤ او ډېر تصانيف ئې لرل، په فنونو کښې هم او په علمونو کښې هم.... په طريقت کښې د ابراهيم ادهم رح مريد ؤ او د ډېرو مشائخو سره ئې صحبت او مجلس شوی دی. وائي چې د اوولس سوو (1700) استاذانو شاګردي مې کړې ده. يو څو د اوښ په بارونو کتابونه ئې لرل"(7).

دغه رنګ خوشحال بابا په يو بل شعر کښې وائي:

"که مريد د شيخ ادم بنوري دی
په سلوك کښې د دې کار په بې نوري دی" (8)

دې شعر کښې خوشحال بابا ميان نور ته اشاره کړې ده چې هغه د شيخ ادم بنوري مريد دی او په طريقت کښې ئې د هغۀ نه لاس نيوۀ کړې ده. خو د سلوك په کار کښې د نورانيت نه خالي دی.

"ادم بنوري د لوئ صوفي او ستر عالم مجدد الف ثاني رح د اکابرو خليفه ګانو نه يو خليفه ؤ. د دوئ د پلار نامه اسماعيل وه. د سرهند خوا ته د بنور نومې ځای اوسېدونکی ؤ. سيد ادم بنوري په ابتدا کښې د شاهي لښکر يو ملازم ؤ خو وروستو ئې دغه ملازمت پرېښوو. ملتان ته راغی او د حاجي خضر دونمائي په خدمت کښې حاضر شو او د هغۀ نه ئې بيعت وکړو او د ډېرو رياضتونو او مجاهدو نه پس په خلافت ونمانځلی شو. په "خلاصة المعارف" کښې ليکلي دي چې دوئ د شيخ محمد طاهر لاهوري نه هم باطني فيوض حاصل کړي دي"(9).

"د دوئ د عقيدت مندو دائره ډېره پراخه وه. څلوېښت زره مريدانو ترې خلافت ترلاسه کړی ؤ. د شاه جهان په دور کښې ئې حجاز ته تشريف يوړو. هلته په مدينه منوره کښې وفات شو او په جنت البقيع کښې خاورو ته وسپارلی شو"(10).

معـروف ولـي الله اخونـد درویـزه بابـا هـم سـتر خوشـحال پـه مختلفـو شـعرونو کښـې یـاد کـړی دی چې د طنـز او نقـد تـوکي پـه کښـې جـوت پـه نظـر راځي وائي:

"زۀ د درويـــزه غونـــدې ايمـــان ښـــيم و دۀ تـــه
دی د پيـــر روښـــان غونـــدې د کفـــر کـــا تلقـــين" (11)

"مخـزن مـې د اخونـد چـې تمـامي پـه نظـر کښـېووت
پـه دۀ کښـې نـۀ عـروض شـته نـۀ ئـې بحـر مـا مونـدلي" (12)

"درويـــزه نـــۀ مجتهـــد دی نـــۀ امـــام دی
دی هـم خـام تاسـو هـم خـام مخـزن هـم خـام دی"(13)
"درويـــزه لـــه يـــوۀ لـــور يـــه را پيـــدا شـــۀ
پـــه لـــږ علـــم پـــه دا ملـــك کښـــې لـــوئ مـــلا شـــۀ"
هغـــه وخـــت پـــه پښـــتنو کښـــې علـــم نـــۀ ؤ
درويـــزه تـــر مجتهـــد لاورتـــه ښـــۀ ؤ" (14)

"کـه ژونـدی شـي افلاطـون :: پـه سـوات کښـې ونيسـي سـکون
اکوزيـــو تـــه بيـــان کـــا :: کتابونـــه د فنـــون
دوئ بـه وائـي چـې دا څـۀ دي :: مخـزن ښـۀ دی د اخـون"(15)

دا شـعرونه د هغـه طنـز او انتقـاد عکاسـي کـوي کـوم چـې خوشـحال بابـا پـه اخونـد درويـزه ؒ او د هغـۀ پـه کتـاب مخـزن او د هغـۀ پـه پيـرو ميـاں نـور بانـدې کـړی دی. اخونـد درويـزه بابـا لـوئ مـذهبي عـالم، صـوفي او نومـوړی ولـي الله ؤ. پـه لسـمه پيـړۍ کښـې د سـوات او بنيـر پـه خـاوره اوسـېدلی دی. د سـوات اولـس اخونـد درويـزه او د هغـۀ تـاليف مخـزن تـه پـه ډيـره درنـه سـترګه کتـل. دواړه ئـې پـه زړونـو کښـې ځـای کـړي وو او بـې کچـه مينـه ئـې ورسـره درلـوده. چـونکې خوشـحال بابـا پـه مخـزن الاسـلام څـۀ اعتراضـات وکـړل ځکـه نـو دغـې اعتراضـاتو د خوشـحال بابـا او د اخونـد درويـزه بابـا د نمسـي ميـاں نـور تـر مېنځـه يـوه منـاظره مخـې تـه راوړه. خوشـحال بابـا هـم پـه دغـه حوالـه د اخوند درويزه بابا ذکر په خپل کلام کښې کړی دی.

د اخوند درویزه بابا نه علاوه د هغهٔ د نمسي میاں نور ذکر خوشحال بابا هم د د غې یادې کړې شوې مناظرې په تناظر کښې څۀ دا رنګ کوي:

کوم ملا چې د میاں نور په حکم درومي
هم هغه د سوات په ملك کښې سېرې مومي
دا میاں نور که د خنزیز غوښې روا کا
ملایان به باندې زر جوړه فتوٰی کا (16)
شیخ میاں په خپله کښېوت په تقدیر کښې
ما و دۀ ته چوټ ورکړې په تحریر کښې"(17)
"و مغلو و ته کښل چې شیخ میاں نور کړه
ما وې نور دا هسې مه کړه دۀ منظور کړه
زما روغه په رښتیا، د دۀ دروغه
د میاں نور سره مې وشوه هسې روغه" (18)

د میاں نور پوره نامه میاں نور محمد ده. د خپل وخت جید عالم، متقي او صوفي ؤ. د اخوند درویزه بابا نمسی او د میاں کریم داد زویٔ ؤ. مور ئې د پیر بابا؆ لور وه. د زوکړې ځای ئې پېښور دی. د ابتدائي زده کړې نه پس چې زلمی شو نو د نور علم د حصول په غرض د کور نه اووت. لاهور ته لاړ. هلته ئې د مختلفو عالمانو نه علم حاصل کړو. په دغه اوان ئې د شیخ ادم بنوري؆ سره ملاقات وشو. د دغه ځای نه ورسره دهلي ته لاړ او بیا د هغهٔ په خدمت کښې تر حجاز پورې ورسېدو. هلته ئې دی ماذون کړو. د خلافت د خرقې نه علاوه ئې دۀ ته یو قرآن هم په تحفه کښې ورکړو. د شیخ ادم بنوري؆ د وفات نه پس میاں نور مکې ته راغی په عبادت او ریاضت کښې مشغول شو. درې کاله ئې حجونه وکړل او په "جبل نور" کښې ئې د تزکیه نفس دپاره چلې وویستې. بیا وطن ته راغی او د سوات اولس دی لکه د خپل پلار او نیکهٔ په شان خپل روحاني مشر ومنو. دلته ئې د درس و تدریس او اصلاح کار پیل کړو. لږه موده پس ئې د ډوما کفارو خلاف جهاد وکړو او د دین رڼا ئې خوره کړه چې په نتیجه

کښې د کوهستان ډېرو قومونو اسلام قبول کړو او ګبري سردار خو د میاں نور محمد نه دومره متاثر شو چې هغهٔ ته ئې خپله لور په نکاح ورکړه. په سوات کښې دغه بي بي په کوهستان ابۍ یادېدله.

د میاں نور یو ورور دولت نومېدو، د دوئ استوګن ځای اسلام پور ؤ. اسلام پور د مېنګورې نه جنوب طرف ته په شپږ میله فاصله پروت دی. دغلته میاں نور محمد په 1088هـ کښې وفات شو او هم دغلته خاورو ته وسپارلی شو. د دهٔ دوه ښځې وې او درې زامن وو. د مشر زوئ نوم ئې غلام محمد ؤ، دهٔ ته د تانړې د حمزه خان نمسۍ وادهٔ شوې وه"(19).

د میاں نور محمدؒ دوه ډلیز الله داد او دوست محمد هم خوشحال بابا د خپلو ټکونو نخښه کړي دي. الله داد او دوست محمد دا دواړه هم د بزرګانو نه وو د دوئ د بزرګۍ او کراماتو د سوات په سیمه عام و خاص قائل دي. خو ستر خوشحال ورته د میاں نور محمد د پلویانو په وجه یاوه وئیلي دي لکه چې وائي:

"د میاں نور مفتیان د سوات په ملك کښې دوه دي
الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دي" (20)

"حضرت میاں الله داد چې په چشتي بابا مشهور دی. د چشتیه سلسلې مشهور صوفي ؤ. په الهٔ ډهنډ (ملاکنډ ایجنسۍ) کښې ئې مزار دی. د پلار نوم ئې ادم خان بابا افغان ؤ. الله داد د شهید بابا کریمداد خپل خوریی یعني د خور زوئ دی. د تیرات په جنګ کښې شامل ؤ. په کومه شپه چې ګبري کافرو میاں کریم داد او عبدالحلیم شهیدان کړل. الله داد په کښې سخت ژوبل شو. مګر ژوندی پاتې شو. دغه وخت د دهٔ د وادهٔ صرف یوه هفته شوې وه. خو د غزا په شوق او د ماما په جهاد کښې د شرکت دپاره د جنګ محاذ ته تللی ؤ"(21).

الله داد المعروف چشتي بابا یو صاحبِ کرامات ولي ؤ. د دهٔ د کراماتو ذکر د تاریخ مرصع مؤلف افضل خان ختک په خپل تالیف کښې کړی دی.

دغه رنګ دوست محمدؒ هم يو رسېدلی صوفي او پوهه عالم دين ؤ. دوست محمد چې مزار ئې په سېدو شريف (سوات) کښې دی. په انګڼ بابا مشهور دی. په اصل کښې پاپينی مياں ؤ. او د اخوند صديق بابا په اولاد کښې ؤ. د پلار نوم ئې محمد صادق بن محمد شريف ؤ.

د محمد صادق دوه زامن وو. دوست محمدؒ مشر ؤ. صوفي بزرګ ؤ. دی د اخوند قاسم پاپين خېل سکه د ترۀ زوئ ؤ. چا چې په پښتو کښې فوائد الشريعت ليکلی دی"(22).

د سوات د سيمې د دغه دريو اوليائې کرامو نه پرته خوشحال بابا د حسن ابدال بابا ذکر داسې کوي.

زۀ ئې له اټکه نه روان کړم په دا حال
ور ئې وړم په پړه په بابا حسن ابدال

په دغه شعر کښې خوشحال بابا وائي چې کله زۀ د ګرفتارۍ په حالت کښې د اټک نه واړولی شوم. نو په بابا حسن ابدال ئې تړلی وروستم. د بابا حسن ابدال په حقله مشهور مستشرق الفنستن ليکي:

"د حسن لقب ابدال ؤ. دی د قندهار نامتو ولي ؤ. هلته دی په بابا ولي مشهور دی"(23).

چارلس هيوګل چې په 1835ء کښې حسن ابدال ته راغلی ؤ هغه هم د حسن ابدال ذکر په دغو الفاظو سره کړی دی، ليکي:

"د بابا حسن ابدال په قندهار کښې ډېر قدر او منزل دی. هلته دۀ ته بابا ولي وئيلی شي"(24).

بلاخمن د بابا حسن ابدال په بابله ليکي:

"د پنجاب په خاوره د اټک نمرخاتۀ پله چې کوم ښار د حسن ابدال په نوم اباد دی. دغه هم د دې ولي د نوم سره تړلی دی"(25).

"دا خبره په خپل ځای ښېخي سمه ده چې بابا حسن ابدال المعروف ولي قندهاری دلته اوسېدلی دی. ځکه نو دا ځای په حسن ابدال ياد شوی دی"(26).

"حضرت بابا حسن ابدال رح به نورو ځایونو ته هم د خپلو مریدانو سره د لیدو دپاره تلی وي. خو هغهٔ دلته ډېره استوګنه کړې ده. ځکه نو دې ځای د بابا حسن ابدال نوم بیا موندی دی. او ابوالفضل په اکبر نامه کښې، جهانګیر په خپل توزك کښې، عبدالله خویشکي په معارج الولایت کښې، عبدالقادر بېدل په چهار عنصر او خوشحال بابا په یو ذوالقافیتېن ترکیب بند کښې هم دا ځای د بابا حسن ابدال په نامه یاد کړی دی"(27).

ولې په تذکرة الابرار والاشرار د لیك تر مخه "خواجه حسن چې په بابا حسن ابدال مشهور دی. د دې سېدانو ورور دی. دی د هزارې په اطرافو کښې اوسېدو او مزار ئې اوس هم شته، دا ټول وروڼه سېدان، سني، عالمان او اهل کمال وو"(28).

د تذکرة الابرار والاشرار د مصنف اخوند درویزه لوئ مخالف او حریف بایزید انصاري تذکره هم خوشحال بابا په خپل کلام کښې ځلور ځایه کړې ده. وائي:

"هغه وخت چې پیر روښان فساد بنیاد کړ
پښتنو ورسره ټینګ کار د ارشاد کړ
"د روښان بخره ورکزي او افریدي شول
هغه خوښ په رهزنۍ په عنیدي شول" (29)
"د روښان خیر البیان ئې ؤ لیدلی
د هغهٔ په مضمون نهٔ ؤ پوهېدلی" (30)
"د روښان مرید محکمه ؤ په دین کښې
درویزه رخنه اغازه کړه په دین کښې" (31)

پیر روښان بایزید انصاري د لسمې پېړۍ ستر پښتون قهرمان او د خپل عصر نوموړی صوفي، د څهٔ تعارف محتاج نهٔ دی. د هغهٔ د نوم او شخصیت سره ټول پښتانهٔ لیکوال او تر ډېره حده لوستې طبقه ښهٔ واقفیت لري. په دغه ترځ کښې نور څهٔ لیکل به د اعادې مترادف وي.

البته خوشحال بابا چې د بايزيد انصاري يا د هغهٔ د کتاب خير البيان په حقله څهٔ وئيلي دي. هغه هم ستاسو په وړاندې دي. په دغه وينا کښې هغهٔ په بايزيد انصاري ټکونه کړي دي او د ځنو پښتنو قبيلو سره سره ئې د بايزيد انصاري کتاب خير البيان ته هم ګوت نيوی کړی دی.

د بايزيد انصاري دورې ته نژدې يو بل بزرګ "شاه عيسىٰ" خوشحال بابا په سوات نامه کښې څهٔ دا رنګ يادوي:

"پښتانهٔ په هغه دور پير پرست وو
څوك مريد د شاه عيسىٰ څوك د سرمست وو" (32)

"شاه عيسىٰ ته به ئې وړې د زرو بدرې
و بلوت سره ورتلې د خلقو سدرې" (33)

پوهاند حبيبي د دې بزرګ په حقله ليکي:

"ميان عيسىٰ د سيد د بکر له ساداتو سره يو زاهد ؤ چې په اټك کښې اوسېدهٔ او د دهٔ يادونه د اخوند درويزه په کتابونو کښې شوې ده"(34).

اخوند درويزه بابا د شيخ عيسىٰ ذکر داسې کوي:

"د ډېرې مودې راسې د شيخ قاسم د منونکو د عيسىٰ د منونکو سره ذاتي دښمني وه نهٔ چې د دين، دغه ډله اوس هم په رفض، ضلالت، کفر او بدعت کښې ډېره مشهوره ده"(35).

"عيسىٰ يوه رساله ليکلې وه چې د اهلِ بيتو او ساداتو فضائل ئې په کښې ذکر کړي وو. ولې ټول ضعيف روايات وو چې د مختلفو تفاسيرو نه ئې را ټول کړي وو. دهٔ به مرتضىٰؓ، حسنؓ، حسينؓ او فاطمهرض اهلِ بيت ګڼل او حضرت عائشهرض به ئې د اهلِ بيتو نه نهٔ شمېرله"(36).

"اورېدلي مې دي چې يو ډېر لوئ عالم او متقي د چرته نه راغی، او عيسىٰ ته ئې نصيحت وکړو او ډېر وعظونه ئې ورته وکړل خو د عيسىٰ د سترګو نه پرده پورته نهٔ شوه. بيا ئې ورته ووئيل چې تهٔ به د دې خپلو منونکو او اولاد په باره کښې نيولی شې. دهٔ پسې ئې خپل منونکي را

پاڅول، هغه عالم ئې ووژلو او بیا ئې اوسېزلو، لږه موده پس په شېخ عیسیٰ یوه سوزونکې دانه را وختله او د دغې دانې له وجې مړ شو"(37).

د شېخ عیسیٰ سره پیوست هم په دغه شعر کښې خوشحال بابا د سرمست نامه هم راوړې ده. لکه چې وائي:

"پښتانهٔ په هغه دور پیر پرست وو
څوك مرید د شاه عیسیٰ څوك د سرمست وو"(38)

د خوشحال بابا د دې شعر نه ښکاره ده چې سرمست هم لکه د شاه عیسیٰ په رنګ یو بزرګ ؤ چې د خپل دور ځنې پښتنو قبیلو ئې مریدي اختیار کړې وه.

پوهاند حبیبي لیکي چې: "په دې نامه څوك نهٔ پېژنم خو یو ملا مست زمند د پښتو سلوك الغزوات مؤلف او شاعر د اخوند ځالاك توغي مرید او شاګرد پېژنو.... .... ښائي دلته دغه مست مراد وي"(39)

خو زما د څېړنې او مطالعې ترمخه د سرمست نه دلته د خوشحال خان خټك ملامست زمند نهٔ دی مراد بلکې هغه دا وینا د شېخ علي سرمست متعلق کړې ده. څوك چې د بېټنو یو مشهور پیر او لوئ ولي الله تېر شوی دی.

د شېخ علي سرمست تذکره خواجه نعمت الله هروي څهٔ دا رنګ کوي:

"په شور او مستۍ کښې بې مثله ؤ. دهٔ د اسلام شاه سوري په زمانه کښې ژوند کولو او د اولس دیني رهنمائي ئې کوله. دی په ریاضت او عبادت کښې د سختو مجاهدو سره عادت ؤ. هم له دې وجې ئې صحت ډېر کمزوری شوی ؤ. د خیر و شر یا ګټې تاوان په حقله چې د دهٔ د خولې نه څهٔ هم ووتل الله تعالی به هغه پوره کول. خلق د دهٔ د بې شمېره کراماتو ذکر اوس هم کوي. د دهٔ په زامنو کښې یو زوئ ډېر خراب او بې مخه ؤ. ذهن ئې د فاسدو خیالاتو نه برجته ؤ. یوه شپه چې پیر سرمست اودهٔ ؤ. دغې زوئ ئې په توره په سر سر ووهلو، ډېر ژور زخمونه ئې په سر راغلل، خپلوانو ئې دغه زوئ ونیو او د سرمست مخې ته ئې د بدلې اخستو دپاره

راوستو، ولې سرمست هغوئ منع کړل، وئيل ئې زۀ بدله نۀ اخلم بلکې د دۀ معامله په خدای سپارم. که هغه وغواړي نو دۀ له به د دۀ د کړو سزا ورکړي دې نه پس ئې خپل مال په زامنو يو شان تقسيم کړو څۀ ورځې پس ئې د دې دنيا نه پرده وکړه، هغه زوئ ئې په اسماني مصيبتونو کښې ګرفتار شو او مړ شو"(40).

حبيبي صاحب رائې لري چې ګنې دا سرمست به ملا مست زمند وي ځوك چې د اخوند ځالاك توغي مريد او شاګرد ؤ. خو لوستونکو ته به اوس اندازه لګېدلې وي چې خوشحال بابا په دغه شعر کښې د اخوند ځالاك مريد او شاګرد نۀ يادوي بلکې دغه ذکر د بل يو بزرګ شېخ علي سرمست دی البته خوشحال بابا د اخوند ځالاك د پلار او ورور يادونه کړې ده لکه چې وائي:

"ختک واړه بوبکري پير منصوري وو
له بدعته له فساده په بري وو" (41)

دې شعر کښې د بوبکري نه مراد د شېخ ابابکر منونکي او د منصوري نه مراد د شاه منصور معتقدين دي.

"شېخ ابابکر قدس الله سره العزيز د پير سباك پلار ؤ دا نوم په ځنو شجرو کښې ابوبکر هم ليکلی شوی دی. دوئ د خپل پلار حضرت شاه اسماعيل مشر زوئ ؤ. چې پلار ئې د دنيا نه پرده وکړه نو د هغوئ په ګدی دوئ کښېناستل"(42).

ډاکټر چراغ حسين شاه د احوال العارفين په حواله ليکي:

"حضرت سېد ابوبکر قدس سره د خپل پلار نه په سهرورديه سلسله کښې بيعت وکړو او د دغې طريقې مجاز شو..... د حضرت شېخ رحمکار کاکا صاحب پلار حضرت شېخ بهادر خان ابك بابا د هغۀ خليفه ؤ د دوئ مزار په خوست کښې دی"(43).

ابوبکر يا ابابکر حسېني سېد دی، دوه ښځې ئې په نکاح وې چې يوه بي بي حليمه نومېده او بله نورجان، پير مبارك د بي بي حليمې له

خېتې نه ؤ. هرکله چې سېد عمر او منصور علي د نورجان له نسه زېږېدلی ؤ"(44).

د پیر سباك دغه مېړنی ورور شاه منصور علي خوشحال بابا هم په دغه شعر کښې د پلار سره جوړه یاد کړی دی.

"شاه منصور د پیر سباك کشر ورور ؤ. پیر جمال شاه د دهٔ له اولاده ؤ. څوك چې د خوست نه کوهاټ ته راغلی ؤ او دلته په ځنګل خېلو کښې مېشته شوی ؤ. د دهٔ اولاد په "منصورخېلو" شهرت لري. د پیر سېد جمال شاه مزار د کوهاټ د پخواني سول هسپتال نه بهر اوس هم شته دی. د شاه منصور قبر هم په خوست کښې دی"(45).

د شاه منصور سره سره د منصور یادونه هم خوشحال بابا په خپل کلام کښې په کراتونو کړې ده لکه چې وائي:

"د منصور غوندې به غل د خاص و عام شم
که ښکاره مې و عالم ته ګوئې مګوئې شي"(46)
"چې له خپله هوده نهٔ واوښت منصور
که وګړي په سولۍ کړ مخ ئې سور" (47)

"نوره واړه پښتونخوا په ځای مېشته ده
خو یو زهٔ دې زمانې په کښې منصور کړم" (48)

حسېن بن منصور حلاج د سېد سلېمان ندوي د څېړنې مطابق په 244هـ کښې د بیضا (فارس) په خوا کښې په "طور" نومې ځای کښې زېږېدلی دی. دی نسلاً ایرانی ؤ"(49).

"هغه د 260هـ نه تر 284هـ پورې د خلقو نه ځانله په یو ګُټ کښې تېر کړل. بیا د فارس او خراسان په سفر لاړو. په 296هـ کښې راستون شو. دغه دوران کښې د دهٔ د مریدانو شمېر ډېر زیات شوی ؤ. د صوفیانو د وینا ترمخه هغه د "وحدت الوجود" قائل ؤ"(50).

"د حضرت جنېد بغدادي په شاګردانو کښې د ټولو نه زیات شهرت منصور بیا موندی دی..... په هغهٔ د اناالحق د نارې تور لګېدلی ؤ. ځکه

د هغـه وخـت عالمـانو د خلیفـه پـه حکـم پـه 309هـ کښـې هغـه پـه دار کړو"(51).

د منصـور حـلاج اسـتاد، لـوئ صـوفي او بـزرګ جنېـد بغـدادي هـم خوشحال بابا د خپلي سترې مرتبې په سوب یاد کړی دی وائي:

"مسـلمان ئـې پـه لـوئۍ پـه بزرګـۍ پـوه دی
د جنېـد لـه حالـه څـهٔ پوښـتې جهـود" (52)

د دوئ اسـتوګن ځـای نهاونـد ؤ. او پیـدا شـوی پـه بغـداد کښـې ؤ. دوئ د امـام شـافعي د یـو لـوئ شـاګرد ابـو ثـور پـه مـذهب ؤ. د څنـو پـه نـزد دوئ د سفیان ثوري د مذهب پېروکار ؤ"(53).

"د دوئ سـره نسـبت لرونکـو تـه جنېدیـه وائـي. پـه دې وجـه دوئ تـه سـېد الطائفـه او امـام الائمـه وئیلـی شـي. د دوئ قـول طریقـت کښـې حجـت دلیـل ګڼلـی شـي او متقـدمین یـا متـاخرین مشـائخ کښـې هیڅـوک د دوئ پـه ظـاهر او بـاطن د اعتـراض کولـو طاقـت نـهٔ لـري، د دوئ ذات د ټولـو دپـاره د مقبولیت درجه لري"(54).

"د دوئ د وفـات کـال پـه کتـاب الطبقـات او رسـاله قشـیریه کښـې 297هـ دی. ولـې د تـاریخ یـافعي ترمخـه دوئ پـه 298هـ او د څنـې نـورو روایتونو له رویه په 299هـ کښې ئې وفات موندلی دی"(55).

دغـه شـان سـتر خوشـحال د منصـور حـلاج سـره سـم پـه یـوه ځلوریځـه کښې بایزید بسطامي او فرید الدین عطار ته داسې اشاره کوي:

"چـې عاشـقانو د حـق دیـدار لیـدهٔ
موسٰـی پـه ونـه منصـور پـه دار لیـدهٔ
جلـوه ئـې وکـړه پـه بایزیـد کښـې
د تېـرې تـورې پـه مـخ عطـار لیـدهٔ" (56).

"حضـرت بایزیـد د بسـطام ډېـر مشـهور صـوفي ؤ. د دوئ خپـل نـوم طیفـور ؤ. پـه دې وجـه دوئ تـه څنـې خلـق بایزیـد طیفـور البسـطامي هـم وائـي. د دوئ نیکـهٔ اتـش پرسـت ؤ چـې وروسـتو مسـلمان شـو. د بایزیـد بسـطامي

شمار د خپلې زمانې د اوچتې پائې په صوفیانو کښې کېدو. د دوئ د عبادت، زهد و تقوٰی او د حضورﷺ سره بې کچه مینه داسې خوبۍ وې چې د راتلونکو صوفیانو دپاره د لارې مشالونه وګرځېدۀ"(57).

"هغه په 261هـ کښې د شعبان په پینځمه وفات شو. خو مولانا جامي په طبقات کښې د هغوئ د وفات تاریخ 234هـ رانقل کړی دی. د هغۀ مزار په بسطام کښې دی"(58).

په یو بل شعر کښې خوشحال بابا بایزید بسطامي د بنګشو دپاره تلمیحاً داسې ذکر کړی دی وائي:

"د بنګش په زړۀ کښې ډېره شیطاني ده
که په خولۀ و تا ته شېخ شي د بسطام" (59)

او د فرید الدین عطار په حقله د دغه پورته څلوریځې نه علاوه په یو بل ځای کښې وائي:

"د عطار خوني عطار وته اظهار دی
که جلاد ئې د خطا د ملك تاتار دی" (60)

"محمد بن ابوبکر ابراهیم خواجه فرید الدین عطار د نېشاپور په خوا و شا علاقه کښې په 513هـ کښې پیدا شوی دی"(61).

"دۀ د تصوف نه ډکه شاعري کړې ده. د شاعرۍ په ټولو اصنافو کښې ئې د تصوف مضامین رانغښتي دي. دی د تصوف د وحدت الوجود د نظرئې قائل ؤ. دۀ ګڼ شمېر تصانیف پرېښي دي. د ځنې روایتونو تر مخه د دۀ د کتابونو تعداد د قرآني سورتونو په شمېر 114 دی"(62).

"دۀ د تاتاریانو له لاسه شهادت بیاموندی دی. د وفات کال ئې 627هـ یادولی شي. دغه وخت د دوئ عمر یو سل څوارلس کاله ؤ"(63).

د فرید الدین عطار په شاګردانو کښې یو شاګرد شېخ صنعان ؤ څوك چې د خپل وخت یو رسېدلی ولي ؤ. د دۀ د مریدانو تعداد اووۀ سوه ؤ چې څلور سوه مریدان په کښې د خلافت درجې ته رسېدلي وو. ستر

خوشحال د شېخ صنعان ذکر کوي چې هغه خپل نفس په امتحان کښې اچولی ؤ. مرتبه ئې بايللې وه خو د خپل شاګرد فريد الدين عطار په برکت دوباره د برخې خاوند شو.

خوشحال بابا وائي:

"چې په تور وېښتهٔ مغرور په خپل پرهېز شي
د صنعان غوندې ئې خوار په سپين وېښتهٔ کړ" (64)

"ګل ئې له مخه د خوبۍ انځور غواړي
خواږه ئې شهد له شونډو پور غواړي
ډېر ئې په طور د شېخ صنعان کړهٔ
سترګې ئې ښهٔ ښهٔ شېخان لا نور غواړي" (65)

"من مگر از جان عشق آگاه نيم
شيخ صنعان راز دين بيزار کرد" (66)

خوشحال بابا يو بل لوئ ولي الله خواجه معين الدين چشتي المعروف غريب نواز ته په خپله يوه څلوريځه کښې داسې اشاره کوي:

"ځنګل ته اور راوړه حکم ته زور راوړه
لښکر څو ډېر لرې لاهومره نور راوړه
داد و دهش کړه غريب نواز شه
چې مفسدان دي پرې شر و شور راوړه" (67)

"د خواجه معين الدين بن خواجه غياث الدين د پيدائش د ځاى متعلق اختلاف دی. د بعضو خيال دی چې په سنجر کښې پيدا شوی دی او بعضې د دوئ د پيدائش ځاى سجستان ښائي.... د دوئ د تاريخ پيدائش متعلق هم کافي اختلاف دی خو اصل واقعه دا ده چې غريب نواز 530هـ کښې دې جهان ته مخ راڅرګند کړو"(68).

"د نهو کالو په عمر کښې ئې قرآن شريف ياد کړو بيا د سنجر په يو مکتب کښې داخل شو. هلته ئې د تفسير، حديث او فقهې کتابونه ولوستل، نېشاپور او سمرقند کښې د اعلٰی تعليم نه علاوه بخارا کښې

ئې د خپلې زمانې د مشهور لوئ عالم مولانا حسام الدين بخاري نه د قرآن شريف او علم حديث د فضيلت سندونه حاصل کړل. او لږه موده کښې فارغ التحصيل شو"(69).

"د حق په تلاش کښې په سفر ووت، هرون ته لاړل او هلته ئې د حضرت خواجه عثمان هروني نه لاس نيوۀ وکړه بيا 555هـ کښې بغداد ته راغې. دلته دوئ ضياء الدين ابو نجيب عبد القادر سهروردي سره ملاقات وکړو"(70).

"حضرت خواجه اجميري ستر صوفي او د اسلام لوئ مبلغ ؤ. د برصغير مسلمانانو ته د دوئ خدمات په عامه توګه تر ننه پورې ياد دي. د اسلام چغه په دې سيمه هم د دوئ د کوششونو په نتيجه کښې پورته شوې وه" (71).

"د بعضو په نزد د دوئ تاريخ وصال 633هـ دی او د بعضو په نزد 634هـ دی. د تاريخ محمديه قلمي نسخه کښې ئې تاريخ وفات 637هـ دی"(72).

شېخ رحمکار رح د پښتنو لوئ پير او روحاني مشر تېر شوی دی چې په اولس کښې د کاکا صاحب په نامه ياد او مشهور ؤ. دوئ ستره روحاني رتبه لرله او ډېر کشف و کرامات ئې يادولی شي. همدغه وجه ده چې د پښتنو ډېرو قبيلو کاکا صاحب روحاني پېشوا منلو او د دعا دپاره به د هغوئ په استانه حاضرېدل. خوشحال بابا هم د کاکا صاحب د روحاني فيض او دعاګانو نه مستفيد شوی ؤ او په خپل کلام کښې ئې د کاکا صاحب سره د خپل عقيدت او مينې اظهار کړی دی وائي:

"د خوشحال تکيه په خدای ده
بيا په تا ده شېخ رحمکاره!"(73)
"چې حلال کسب ئې نۀ وي شکرانې خوري
خدايه! بخن په شېخۍ د شېخ رحمکار شم" (74)
"په شېخ رحمکار مې تازه توبه وکړه
هغې نګارې راته ښيوه وکړه" (75)

"دوئ او درست اولس په زيارت د شيخ رحمکار
ټول شول له دې کاره په قريب شول توبه ګار" (76)

"د شيخ رحمکار خپل نوم کستير ګل ؤ. د پلار نوم ئې شيخ بهادر بابا ؤ. څوك چې د خپلې زمانې قطب ؤ"(77).

"حضرت سيدنا شيخ رحمکار کاکا صاحب د جمعې په ورځ صبح صادق د شعبان المعظم په ديرشتم تاريخ په 981هـ کښې پيدا شۀ، په دغه زمانه کښې په برصغير پاك و هند د جلال الدين اکبر حکومت ؤ. رحمکار د دوئ لقب دی. دغه شان کاکا صاحب هم د دوئ لقب دی"(78).

"د مجمع البرکات نه دا خبره جوتيږي چې هغوئ په سهرورديه سلسله کښې د خپل پلار نه لاس نيوه کړې وه. ولې پوهان د دوئ د پير نوم د کوهاټ حاجي بهادر ښائي. او د دوئ خاص مريد اخوند اسماعيل د دوئ مرشد پير مبارك يادوي. دغه شان مير احمد شاه رضواني په خپل کتاب "تحفة الاولياء" کښې د دوئ د پيرنامه اخوند پنجو بابا ښودلې ده"(79).

"د خوشحال خان خټك پير و مرشد حضرت شيخ رحمکار عرف کاکا صاحب د اتيا کالو په عمر کښې د جون په مياشت کال 1653ء کښې وفات شو. د هيواد د غاړو پسکونه راغلي د دۀ د عقيدتمندو يو ګڼ شمير خلق په دغه موقع موجود وو او خوشحال خان هم د نورو خلقو سره د جنازې کټ له د اوږې ورکولو سعادت حاصل کړو"(80).

د شيخ رحمکار کاکا صاحب په څير خوشحال بابا د پښتنو نور پيران او اوليائې کرام هم په خپلو شعرونو کښې ځای کړي دي. لکه پير ډنګر، شيخ قاسم او شيخ احمد.

د پير ډنګر او شيخ قاسم په حقله په يو شعر کښې وائي:

د قاسم په بخره واړه غوريا خيل وو
ډنګر پير وته د بنوں شيتك اېل وو (81).

خوشحال بابا په دغه شعر کښې وائي چې د پير قاسم بازار په غورياخېلو کړم ؤ او د بنوں شيتك په پير ډنگر رامات وو. د پير ډنگر په حقله ډاکټر چراغ حسېن شاه ليکي:

"د ډنگري پير مزار اقدس په باندہ داودشاه کوهاټ کښې دی. د هغوئ اصلي نوم نعمان ؤ او د روحاني بابا د اولاده ؤ"(82).

خوشحال بابا دغه نوم "ډنگر" ياد کړی دی. ولې مقامي خلق دغه نامه "ډنگري" يادوي. لکه څنگه چې ډاکټر چراغ حسېن شاه ليکلي ده. زۀ څۀ وخت وړاندې په دغه هڅه باندہ داود شاه ته لاړم چې د پير ډنگر د ژوند او کشف و کراماتو په حقله څۀ معلومات را غونډ کړم. د دې ولي الله مزار د لوئ جرنېلي سړك په غاړه دی. دغه مزار پوخ دی او چت پرې باندې جوړ دی. د مزار خدمت يو منجور کوي چې چامبېل نوميږي. د هغۀ د وينا مطابق د ډنگر پير خپل نوم نعمان او د پلار نامه ئې روحاني بابا ده. دوئ د بغداد نه راغلي دي. پير ډنگر د خپل پلار نه بيعت کړی ؤ او په غر غر کښې ئې چلې، رياضتونه او مجاهدې کړې دي. د دغه محنت له وجې چې هغوئ به خوب او خوراك ډېر کم کولو. بې کچه کمزوری شوی ؤ. په دغه وجه هغه په مقامي خلقو کښې د ډنگر پير په نامه مشهور شو او اوس ئې عام و خاص هم په دغه نامه پېژني. عن چې خپل نوم ئې خلقو هېر کړی دی. د پير ډنگر بې شمېره کرامات هم په دغه علاقه کښې په اولس کښې مشهور دي. وادۀ ئې نۀ ؤ کړی ځکه نو اولاد ئې نشته.

د پير ډنگر سره سم خوشحال بابا د پير قاسم ذکر هم کوي. حبيبي صاحب د پير قاسم په باره کښې رائې لري چې:

"ښائي چې مراد شېخ قاسم بن شېخ قدم متي زی خليل غوريا خېل ؤ. (956- 1016ق) چې د پېښور په دواوه کښې د قادري طريقې مرشد ؤ. او د تذکرة الاولياء افغان مؤلف دی"(83).

د تذکرة الابرار والاشرار مصنف د پير قاسم په حقله څۀ داسې وائي:

---

باندہ داؤد شاه په کوهاټ کښې نۀ دی بلکې د کرک ضلعې يو تحصيل دی. (مدير)

"دی په پرشور کښې د یوې ونې لاندې ډېره شو چې د خلقو توجه حاصله کړي. خلقو دی ولیدو چې یو نوی مذهب ئې اختیار کړی دی. دغه خبره چې حکامو ته ورسېده نو شادمان د مېرزا حکیم بن همایون یو امیر د دهٔ د وژلو په اراده راغلو خو دی ترې قندهار ته وتښتېدو او د یو قافلې سره حج ته لاړ. په واپسی کښې ئې د پیری دعوٰی وکړه. یو لیکلی کاغد ئې د ځان سره راوړی ؤ. چې زهٔ د عبدالقادر جیلانیؒ اولاد ماذون کړی یم. ما خلقو ته اووې چې اې جاهلانو! د پیری مرتبه د نسب سره تعلق نهٔ لري. شیخ حسن نومې ماذون د عبدالقادر جیلانیؒ په اولاد کښې نشته چې د پلار نیکهٔ په ګدی ناست وي......... دی چې تر کومې پورې په دې حدودو کښې پاتې شو. نو د اباحت په مذهب ټینګ ولاړ ؤ....... د دهٔ منونکو به دهٔ ته "سپین خدای" وایو. دهٔ له خپلو منونکو په دوابه کښې کور جوړ کړی ؤ. په دغه کور ئې د "مکه" نامه کښېښودې وه. د عیسٰی منونکو په دهٔ پسې لښکر وکړو. خو دهٔ هغه ټول ووژل، عیسٰی اکبر باچا ته دغه شکایت وکړو، دی ئې ګرفتار کړو، څهٔ موده په لاهور کښې ؤ. بیا چې کله د سلیم دور شو نو هغهٔ دی په بند کړو او دا شان د چنار په قلعه کښې ترې روح لاړ"(84).

د شیخ قاسم متعلق دغه رائې د اخوند درویزه بابا وه. لکه څنګه چې اخوند درویزه بابا عموماً د خپلو مخالفینو په حقله هم دغه رنګ رائې قائموي ځکه نو مونږ نهٔ شو کولی چې دغه بیانات ومنو. یا ئې تردید وکړو. په دې چې د شیخ قاسم کتاب "تذکره اولیائې افغان" زمونږ په لاسو کښې نشته.

شیخ احمد د خوشحال بابا همعصر ولي الله دی. د فراق نامې په یو شعر کښې د هغهٔ نامه داسې اخلي:

"شیخ احمد دې هیڅ خلل د ایمان نهٔ کا
دا خبرې ډېرې خړې یو دریاب کښم" (85)

د شیخ احمد پېژندګلو پروفېسر افضل رضا څهٔ په دا ډول کوي:

"د اخونـد صـاحب نـوم احمـد د پـلار نـوم ئـې اسـماعيل خـان او د نيکـۀ نـوم ئـې پاينـده خـان ؤ. دی د پېښـور سـره جخـت د لنـډی کلـي اوسـېدونکی ؤ او هم په دغه نسبت دغه کلی اخوند لنډی بللی شي"(86).

"مــلا احمــد چــې د پېښــور د مشــهورو علمــاوو نــه دی او چــې نــدوة العـارفين مولانـا حـاجي سـعد الله وزيـر ابـادي تـه ئـې د طريقـت نسـبت دی او د پېښور اکثر فضلاء او علماء ئې شاګردان وو"(87).

بــي بــي مــريم د شــيخ احمــد ســره دوولــس کتابونــه منســوب کــوي. د وفات کال ئې 1113ھ او مزار ئې په لنډی کلي کښې يادوي"(88).

د دې دومـره تفصـيلي بحـث نـه دا اسـتنباط ډېـر پـه اسـانه کېـدی شـي چې خوشـحال بابـا پـه خپـل کـلام کښـې د اوليـائې کرامـو موضـوع نـۀ يـواځې ځـای کـړې ده بلکـې پـه دغـه اسـاس ئـې د خپـل فکـر او خيـال نيلـی هـم پـه هـر ډګـر او هـر ګـودر بـې ترهـې زغلـولی دی. د سـتاينې او غنـدنې هـر خيـال ئـې پـه بـې باکانـه ډول بـې رويـه بـې ريـا رامېـنځ تـه کـړی دی چـې پـه کښـې د عقيـدې او عقيـدت هـم پـوره پـوره تولـه او تـوازن سـاتلی شـوی دی. د دې نـه سـربېره د متعلقـه اوليـائې کرامـو پـه حقلـه زمـونږ د معلومـاتو پنګـې تـه هـم ډېـر څـۀ بخښـي. دغـه خصوصـيات دي چـې د خوشـحال بابـا دا موضـوع ئـې هم لکه د نورو څېړلې شوو موضوعاتو درنه کړې او مړه کړې ده.

۞۞۞

# حوالې

(1) خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان خټک، مرتبه، دوست محمد کامل مومند، اداره اشاعت سرحد پېښور، منظور عام پرېس پېښور، 1960ء، مخ 645.

(2) آیاز، مقصود، شخصیات کا انسائیکلو پیڈیا، شعاع ادب لاہور، مطبع ندارد. 1987ء، ص 45.

(3) هم دغه

(4) خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان خټک، مرتبه، دوست محمد خان کامل مومند، مخ 157.

(5) هم دغه، مخ 304.

(6) قادریه، فقیر محمد عباس، تذکرة اولیاء، زېب آرټ پبلېشرز محله جنګي پېښور، مطبع او سن اشاعت نۀ لري، مخ 96.

(7) بېګ، فقیر جمیل، دل، تذکرة الاولیاء، مترجم حاجي عبدالرزاق کوثر، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي پېښور، ملت پرنټرز لاهور. 1994ء، مخ 193.

(8) خټک، خوشحال خان، سوات نامه، مرتبه همېش خلیل، مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه اکوړه خټک، شرکت پرنټنګ پرېس لاهور، 1976ء، مخ 90.

(9) افغاني، عبدالحلیم اثر، روحاني رابطه او روحاني تړون، دارالاشاعت باجوړ، منظور عام پرېس پېښور، 1967ء، مخ 407.

(10) سید، قاسم محمود، اسلامی انسائیکلو پیڈیا، ناشر محمد فیصل، ٹیکسیشن پرنٹنگ پریس لاہور، سن اشاعت ندارد، جلد 2، ص 35.

(11) خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان خټک، مرتبه، دوست محمد خان کامل مومند، مخ 233.

(12) هم دغه، مخ 623.

(13) سوات نامه، مرتبه همېش خلیل، مخ 77،

(14) هم دغه، مخ 97.
(15) کليات خوشحال خان خټک، مخ 879.
(16) سوات نامه، مخ 70.
(17) هم دغه ، مخ 79.
(18) هم دغه، مخ 84.
(19) رحيم، رحيم شاه، د سوات نامې جواب نامه، شعيب سنز پبلېشرز، مېنګوره، مطبع نۀ لري، 2006ء، د مخ 87، نه تر 106 مخونو د شعرونو نثري لنډيز.
(20) سوات نامه، مخ 71.
(21) اخوند خیل، میاں عبدالرشید، تذکرہ علمائے کبار ومشائخ عظام، صوبہ سرحد، (قلمی نسخہ)
(22) هم دغه.
(23) الفنستن، ايکاونټ آف دي کېنګډم آف کابل، لندن، 1815، مخ 99.
(24) هېګل، بارن چارلس، ټرېولز ان کشمير اينډ دي پنجاب، لندن، 1845، مخ 225.
(25) ابوالفضل، آئين اکبري، مترجم بلا خمن، کلکته، 1973ء، مخ 580.
(26) ولزم، ايچ ايچ ټرېولز ان دي هماليين پراونسز، لندن، 1861، جلد 2 مخ 318.
(27) صدیقی، منظور الحق، تاریخ حسن ابدال، ادارہ تحقیقات پاکستان دانشگاہ پنجاب لاہور، عالیہ 120 ٹیمپل روڈ لاہور، 1877ء، ص 25.
(28) دروېزه، اخوند تذکرة الابراروالاشرار، اداره اشاعت سرحد پېښور، نيو ايګل سټار پرېس پېښور، د چاپ کال نۀ لري، مخ 159.
(29) سوات نامه، مخ 60.
(30) هم دغه، مخ 97.
(31) هم دغه، مخ 99.
(32) سوات نامه، مخ 60.
(33) سوات نامه، مخ 66.

(34) ختهك، خوشحال خان، سوات نامه، مرتبه عبدالحی حبيبي، د افغانستان د علومو اکېډمي کابل، دولتي مطبعه، 1358هـ ش مخ 60.
(35) تذکرة الابرار والاشرار، مخ 165.
(36) هم دغه، مخ 188، 189.
(37) هم دغه، مخ 190.
(38) سوات نامه، مخ 96.
(39) ختهك، خوشحال خان، سوات نامه، (مرتبه عبدالحی حبيبي، مخ 60.
(40) هروي، خواجه نعمت الله، تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني، مترجم ډاکټر محمد بشير حسېن مرکزي اردو بورډ لاهور، زرين آرټ پرېس لاهور. 1978، مخ 602، 603.
(41) سوات نامه، مرتبه همېش خليل، مخ 132.
(42) شاه، ډاکټر چراغ حسېن، تذکره پير مبارك و سادات پير مبارك، ناشر مصنف په خپله، عکاس پرنټرز پېښور، 1989ء، مخ 56.
(43) هم دغه.
(44) سوات نامه، مرتبه همېش خليل، مخ 131.
(45) تذکره پير مبارك سادات پير مبارك، ډاکټر چراغ حسېن شاه، مخ 56.
(46) کليات خوشحال خان ختهك، مخ 481.
(47) هم دغه، مخ 81.
(48) هم دغه، مخ 562.
(49) قدوسی، اعجاز الحق، اقبال کے محبوب صوفياء، اقبال اکیڈمی لاہور، زرین آرٹ پریس لاہور، 1976ء، ص 36.
(50) اي. جې. برل، انسائيکلوپېډيا آف اسلام، ليډن، 1913ء، ج 2، مخ 240.
(51) روبینہ ترین، ڈاکٹر، تصوف، (تعریف، تاریخ، اصطلاحات، بیکن بکس گلگشت ملتان، شرجیل پرنٹنگ پریس ملتان، 2001، ص39، 40.
(52) کليات خوشحال خان ختهك، مخ 67.

(53) جامي، عبدالرحمٰن، نفحات الانس، مترجم، سید احمد علي، ناشر ملك فضل دين، لاهور، مطبع او د چاپ کال نۀ لري، مخ 94.
(54) قادريه، فقير محمد عباس، د خدای نیازبین، تاج محل کمپني، ډهکي منور شاه، قصه خواني بازار پېښور، د چاپ ځای او کال نۀ لري، مخ 18.
(55) نفحات الانس، عبدالرحمان جامي، مخ 94.
(56) کلیات خوشحال خان خټك، مخ 720.
(57) نعمانی، شبلی، مولانا، سوانح مولانائے روم، ناشر ندارد، الناصر پریس لکھنو، س ن، ص 125.
(58) آغا، اشرف، عارفین اسلام المعارج علامه اقبال ٹاؤن لاہور، ارزیڈ پیجکز مچھلی مارکیٹ لاہور، 1990ء، ص 9.
(59) کلیات خوشحال خان خټك، مخ 558.
(60) هم دغه، مخ 389.
(61) خان، مولانا، قاری محمد عادل، تذکرۃ الاولیاء، کتب خانه خورشیدیه لاہور، سن اشاعت ندارد، ص 2.
(62) دریابادی، مولانا عبدالماجد، تصوف اسلام، المعارف لاہور، سن اشاعت ندارد، 1393ھ، ص 125.
(63) عبدالرحمٰن شیخ، مراۃ الاسرار، صوفی فاؤنڈیشن لاہور، کمال پرنٹنگ پریس لاہور، 1982ء، ص 113 ت.
(64) کلیات خوشحال خان خټك، مخ 120.
(65) هم دغه، مخ 800.
(66) خټك، خوشحال خان، دیوان خوشحال خان خټك، (دویمه حصه) مرتبه حاجي پردل خان خټك، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي پېښور، حمیدیه پرېس پېښور، 1991ء، مخ 464.
(67) کلیات خوشحال خان خټك، مخ 706.
(68) قادريه، فقير محمد عباس، اووۀ بزرگان، اداره فروغ تعلیم پېښور، منظور عام پرېس پېښور، 1971، مخ 96، 97.
(69) هم دغه، مخ 98.
(70) هم دغه، مخ 100، 102.
(71) محمد ریاض، ڈاکٹر، اقبال اور فارسی شعراء، اقبال اکادمی پاکستان لاہور، ابراہیم سنز پرنٹرز لاہور، 1977، ص 90.
(72) اووۀ بزرگان، مخ 151.
(73) کلیات خوشحال خان خټك، مخ 79.
(74) هم دغه، مخ، 185.

(75) **هم دغه، مخ** 728.

(76) **هم دغه، مخ** 936.

(77) عبدالقیوم، مشاہیر سرحد، ناشر و مطبع عبدالسلام خان پرنٹرز لاہور، 1977، ص30.

(78) **روحاني تړون او روحاني رابطه، مخ** 578.

(79) **مشاهير سرحد، مخ** 31، 32.

(80) **پشتون کون؟ مخ** 382، 383.

(81) **سوات نامه، مرتبه همېش خليل، مخ** 96.

(82) **تذکره پير مبارك و سادات پير مبارك، مخ** 224.

(83) **سوات نامه، مرتبه عبدالحی حبيبي، مخ** 61.

(84) **تذکرة الابرار والاشرار، مخ** 183، 184.

(85) **خټك، خوشحال خان، فراق نامه، مرتبه زلمی هيوادمل، پښتون کور، (بن) جرمني، د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره پېښور، ملت پرېس لاهور،** 2001ء، **مخ** 77.

(86) **بي بي مريم، د پښتو نثر تاريخي او تنقيدي جائزه، مخ** 242.

(87) **محمد حنيف، ډاکټر، پښتو مجله، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، اکتوبر** 1980ء، **مخ** 21.

(88) **بي بي مريم، د پښتو نثر تاريخي او تنقيدي جائزه، مخ** 244.